مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لونگی جبارخیل

۲۰۲۰/۰۵/۱۵

# همدغه دي وختونه،

## بيا به نه يم، ته به ژاړې

نارامه يم نارامه، هېڅ شی ځای نه راکوي
ويرونه دي ويرونه، چې هېڅ پای نه راکوي

ناخوالي د ژوندون، ستا جدايي مې ژړوي
رقيب چې را په زړه شي، دا مې نور هم کړوي

ما و تا کي سلامت او ملامت هر کله غم دی
زما د زړګي خونه کې ميلمه دی او وير تم دی

همدغه دي وختونه، بيا به نه يم، ته به ژاړې
په نه شتون کې بې ګټې، زه به نه يم ته مې غواړې

اشنا چې مرور شو ربه ته يې راپخلا کړې
ناڅاپه که ښکاره شي، زه به وايم چې بلا کړې





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ